# دِ اِن شآءَ اللّٰه

# وئیلو برکتونه

09-September-2021

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِالْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّابَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د اِن شآءَ الله وئيلو برکتونه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

مُحترمو اسلامي ورونړو! چې کله جُمات ته داخل شئ، نو په ياد سره د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدلو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د مخکښې نه مو د اعتکاف نِيَّت کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د درود شريف فضيلت

د نبـئ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: کوم بنده چې په محبت او شوق سره درې ځله په ورځ کښې او درې ځله د شپې په ما باندې دُرُود شريف اولولي، په الله پاك باندې حق دے چې د هغه د هغې ورځې او د هغې شپې ګناهونه مُعاف کړي.(1)

[1]...معجم الکبير، جلد:8، صفحه:69، حديث:15316۔

**اے عاشقانِ رسول!** که مونږه لږه توجه اوکړو نو په ډیره آسانئ سره زمونږ د ګناهونو بخښلو سبب کیدے شي، مثلاً د سحر لمُونځ جَمعې سره ادا کړئ، [بیا] سر ښکته کړئ، سترګې بندې کړئ، او د شین شین ګنبد تَصَوُّر اوکړئ او درې ځله دُرُودِ پاك اولولئ، دغه شان د شپې اوده کیدو په وخت کښې اګرچه په بستره ئې، مخ په قبله کښینئ، سترګې بندې کړئ او د ښائسته شین ګنبد په تَصَوُّر کښې درې ځله دُرُودِ پاك اولولئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د دغې ورځې او شپې ګناهونه به مو مُعاف کړے شي. خیال لرئ! کبیره ګناه په رښتیني توبے سره مُعاف کیږي، دغه شان قضا لمُونځونه، قضا روژے، د بندګانو مالي، جسماني حُقُوق که د چا په ذِمّه وي د هغې ادا کول هم لازم دي.

وہ تو نہایت سستا سودا، بیچ رہے ہیں جنت کا | ہم مفلس کیا مول چکائیں، اپنا ہاتھ ہی خالی ہے[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (یعني) رښتینے نِیَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! یاد ساتئ! په نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو:

نِیَّت اوکړئ چې، ✿ نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم. ✿ چې

[1]...حدائقِ بخشش، صفحه:186۔
[2]...جامع صغیر، صفحه:81، حدیث:1284۔

خومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت
د اَلتَّحِيَّات په شكل كښېنم ❁ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو
نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخكښې ښه
ښه نِيَّتونه كوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **"نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ"** د
مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

هر نيك او جائز كار كښې چې خومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم
زيات كيږي.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د حضرت جِزْئِيْل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اِيمان نه ډك حكايت

په سيپارهٔ 24، سورهٔ مُومِن، آيت: 44 كښې دي:

| | |
|---|---|
| **وَ اُفَوِّضُ اَمْرِیْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِیْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾** (پاره24،سورهٔ مُومِن:44) | **مفهوم ترجمه كنزُالعِرفان:** او زه خپل كارونه الله ته سپارم، بيشكه الله بندګان ويني. |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د آيتِ كريمه دا فرمان په اصل كښې د حضرت
موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام د يو اُمَّتي قول دے كوم چې الله پاك په قرآنِ كريم كښې ذِكر
فرمائيلے دے. واقعه څه داسې شوې وه چې فرعون كوم چې ډير سركشه، سخت
ظالِم، كافِر باشاده وو او د خُدائي دعوٰى ئې كوله، د هغه د تره ځوئ ته الله پاك د
هدايت نُور ورعطا كړو او هغه د حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام كَلِمَه اووئيله، او ايمان ئې

[1] (معجم كبير سهل بن سعد الساعدى...الخ، ٦/١٨٥، حديث ٥٩٤٢)

راوړو. فرعون ډير سخت ظالم وو په ايمان قبلولو والا باندې به ئې سخت ظلمونه كول ځكه په شروع شروع كښې هغوئي خپل اِيمان پټ ساتلے وو. د حضرت عبدُ الله بِن عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د روايت مُطابق د هغوئي نوم ''جِزْئِيْل'' وو.(1)

يو ځل فرعون د خپلو وزيرانو، مُشِيرانو يو اجلاس را اوبللو او هغوئي سره ئې مشوره اوكړه چې د حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام تبليغ ورځ په ورځ ترقي كوي، د هغوئي پيروكار زياتيږي، حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام به څنګه منع كړے شي؟ د هغه د تبليغ په لاره كښې به رُكاوټ څنګه واچولے شي؟ په دې اجلاس كښې د ټولو نه اوَّل رائے فرعون وركړه، اوئې وئيل:

ذَرُوْنِیْۤ اَقْتُلْ مُوْسٰى
(پاره24،سورۂ مُومِن:26)

مفهوم ترجمه كنزُالعِرفان: ما پرېږدئ چې زه موسٰى قتل كړم.

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه! په فرعون دِ د خدائے لعنت وي، د دې بدبخته، سركشه جُرأت اوګورئ! مَعاذَ الله! د الله پاك د نبـي عَلَيْهِ السَّلَام د شهيد كولو منصوبے جوړوي.

دا د اِنساني تاريخ ډير بد اړخ دے چې انسان د خپل مُحسِن دُښمن جوړيږي، ځوك چې د انسان خير غواړي، انسان د هغه خلاف سازشونه كوي، تاريخ اوګورئ! چې كله هم چا د حق آواز اوچت كړے دے، خلق ئې جَنَّت طرف ته رابللي دي، هغوئي ته ئې د نيغې لارې ترغيب وركړے دے، خلق د هغه مُبَلِّغ دُښمنان شوي دي. ❀ حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام 950 كاله د دِين تبليغ اوفرمائيلو. خلقو ته ئې د جنت لاره ښودله، د الله پاك د قُرب حاصلولو صحيح طريقه ئې ورښودله، د ترقۍ لارې به ئې ورته ښودلې او پوهه كول به ئې خو قوم د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام يوه خبره هُم اونه منله، 950 كاله كښې صرف 80

---

[1]...تفسير مظهرى، پاره:24، سورۂ مؤمن، زيرِ آيت:28، جلد:6، صفحه:201۔

خلقو اسلام قبول کړو، خلقو به په حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام باندې ظُلم کولو، په هغوئي پورې به ئې خندا کوله او هغوئي ته به ئې مَعاذَ الله! ډير تکليفونه ورکول. ✿ [چې کله] حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د حق آواز اوچت کړو، خلقو ته ئې د جنت لاره اوښودله نو نمرود او د هغه قوم حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مَعاذَ الله! لمبې وهونکي اور ته د اچولو ناپاکه عمل اوکړو. ✿ ځومره انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام خو مَعاذَ الله! سرکشه کافرانو شهيدان کړي هم دي.

غرض دا چې په انساني تاريخ کښې دا يو انتهائي بد اړخ دے چې انسان د خپل ځان ښه ګڼړلو په آفت کښې اخته کيږي، انسان د غرور و تکبر په نشه کښې بے قابُو شي، د الله پاك نافرماني کوي، ضد کوي او ډير ځله د دې غرور او تکبر په وجه د ذِلت داسې جورې کندې ته غوزار شي چې بيا د سر پورته کولو هِمَّت نه شي کولے. فرعون هم داسې وو، هغه هم د خپل ځان ښه ګڼړلو په آفت کښې اخته شوے وو، هغه هم د غرور او تکبر په نشه کښې مست وو، حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته د حق دعوت ورکولو، د جنت لاره ئې ورته ښودله او هغه د تخت، بادشاهۍ او طاقت په نشه کښې وو، د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام خلاف ئې سازشونه کول، هغه د دلائلو په ذريعه خو د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام مُقابَله نه شوه کولے، نو چې کله حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د خپل نبي کيدلو دلائل ورکړل، معجزے ئې ورته اوښودلې نو فرعون اووئيل: دا جادو دے. فرعون جادوګر راجمع کړل، مُقابَله ئې شروع کړه، جادوګرو خپلې رسۍ واچولې نو د ټولو رسو نه ماران جوړ شو، حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام چې کله د هغوئي په مُقابَله کښې خپله عصا (همسا) مبارکه په ميدان کښې واچوله نو د هغې نه غټ ښامار جوړ شو او د جادوګرو ټولې

رسئ ئې اوخوړلې، د دې عظِيمُ الشَّانه معجزې په ليدلو ټول جادوګر په سجده پريوتل، ټولو کلمه اووئيله او د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام غلامان جوړ شو. (1)

يعنې فرعون د دلائلو په ذريعه د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام مُقابَله نه شوه کولے، په دې وجه هغه د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام د شهيد کولو سازش اوکړو، خپل وزيران او مُشيران ئې په دې منصوبه باندې راضي کړل.

خو د الله پاك قدرت اوګورئ! اوَّل چې کله فرعون ته د خوب په ذريعه معلومه شوه چې د بنـې اسرائيلو يو ماشوم به د فرعون تخت اَړوِي، هغه وخت فرعون په زرګاؤ ماشومان هلکان قتل کړل خو الله پاك حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام د هغه [فرعون] په کور کښې، د هغه په مخکښې لوئ کړو او هغه هيڅ هم نه شو کولے.(2) بيا چې کله فرعون د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام د شهيد کولو منصوبه جوړوله نو الله پاك د ده د قوم نه، د ده د قبيلے او خاندان نه د هغه د تره ځوئ حضرت جِزئِيل رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام حمايتي جوړ کړو. هغه وخت د فرعون د تره د ځوئ حضرت جِزئِيل رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ غيرتِ اِيماني په جوش کښې راغلو، تر څو چې هغه ته د ځان خطره وه، تر هغه وخته پورې هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ خپل اِيمان پټ کړے وو، خو اوس خبره د الله د نبي د عزت وه نو اوس اِيمان پټول د حکمت خلاف وو، لِهٰذا حضرت جِزئِيل رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرعون اورټو، د هغه په دربار کښې اودريدلو او يو اوګړد تقرير ئې اوکړو، فرعون او د هغه درباريان ئې د الله پاك د عذاب نه اُويَرَول، د حضرت نوح عَلَیْہِ السَّلَام، حضرت هُود عَلَیْہِ السَّلَام او حضرت صالِح عَلَیْہِ السَّلَام د قومونو حال ئې ورته بيان کړو، هغوئي ته ئې د حضرت يُوسُف عَلَیْہِ السَّلَام د نُبُوَّت دور ورياد کړو چې د مِصر په دې مُلك کښې د حضرت يوسُف عَلَیْہِ السَّلَام حکومت وو،

---

1 ...تفصيل د پاره اوګورئ: پاره:9، سورهٔ اعراف، آيت:109 تا 122۔

2 ...صراط الجنان، پاره:24، سورهٔ مؤمن، زيرِ آيت:25، جلد:8، صفحه:548۔

حضرت يُوسف عَلَيۡهِ‌السَّلام د الله پاك نبـي وو، حضرت يُوسُف عَلَيۡهِ‌السَّلام هم د دې خبرې دعوت وركولو، د كومې خبرې چې نن حضرت موسٰى عَلَيۡهِ‌السَّلام دعوت وركوي، لِهٰذا اے فرعونه! اے د فرعون قومه! اے د فرعون وزيرانو! تاسو هم كَلِمَه اولولَئ، اِيمان قبول كړئ، د الله پاك د عذاب نه پناه اوغواړئ او د جَنَّت په لاره روان شئ.

د **حضرت جِزئِيل** رَحۡمَةُ‌اللهِ‌عَلَيۡه د دې تقرير تذكره الله پاك په سيپارۀ **24**، سورۀ مُومِن كښې ذِكر كړي ده. چې د دوئي په پوره تقرير په اوريدلو هم فرعون او د هغه وزيرانو او مُشيرانو د عقل نه كار وانخستو، نو په آخره كښې هغوئي رَحۡمَةُ‌اللهِ‌عَلَيۡه خپله خبره په دى ختمه كړه چې:

| | |
|---|---|
| فَسَتَذۡكُرُوۡنَ مَاۤ اَقُوۡلُ لَكُمۡ ؕ ﴿۴۴﴾ (پاره24،سورۀ مُومِن:44) | **مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان:** نو زر به تاسو هغه ياد كړئ څه چې زه تاسو ته وائم. |

يعنې اے فرعونه! اے د فرعون ملګرو! نن خو تاسو زما په خبره نه پوهيږئ خو نِزدې ده چې كله د الله پاك عذاب راشي او تاسو نه راتاؤ شي، نو بيا به تاسو زما خبرې يادې كړئ. په دې باندې فرعون او د هغه وزيرانو، مُشيرانو هغه غيرتمند مُومِن حضرت جِزئِيل رَحۡمَةُ‌اللهِ‌عَلَيۡه ته دهمكي وركړه او اوئې وئيل: تا زمونږ د دِين مُخالَفَت اوكړو نو مونږه به ستا سره ډير بد سلوك اوكړو. (1)

په دې باندې حضرت جِزئِيل رَحۡمَةُ‌اللهِ‌عَلَيۡه د خپل پوخ اِيمان مظاهره اوكړه، او اوئې فرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَ اُفَوِّضُ اَمۡرِیۡۤ اِلَی اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَصِیۡرٌۢ | **مفهوم ترجمه كنزُالعِرفان:** او زه خپل كارونه الله ته سپارم، بيشكه الله بندګان ويني. |

---

[1]...صراط الجنان، پاره:24، سورۀ مؤمن، زيرِ آيت:44، جلد:8، صفحه:568۔

بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾ (پاره24،سورۂ مُومِن:44)

رکھتے ہیں جو اللہ کی قُدرت پہ بھروسہ
دُنیا میں کسی کی وہ خوشامد نہیں کرتے

حضرت جِزئِیل رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ چې خپله مُعامَله الله ته اوسپارله نو الله پاك د فرعون نه د هغه حفاظت اوفرمائيلو، ارشاد شوے دے:

فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَ حَاقَ بِاٰلِ فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾ (پاره24،سورۂ مُومِن:45)

مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: نو الله هغه د هغوئي د مکر د بدو نه بچ کړو او فرعونيان بد عذاب راګير کړل .

مُفَسِّرِینِ کرام فرمائي: فرعون او د هغه قوم ته د اِيمان د دعوت ورکولو نه پس حضرت جِزئِیل رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د فرعون د دربار نه اووتلو او يو غر ته لاړو د الله پاك په عبادت کښې مصروف شو، فرعون په هغوئي پسې خپل سپاهيان اوليږل چې لاړ شئ! هغوئي اونيسئ او بيرته ئې راولئ. چې کله سپاهيان غر ته اورسيدل نو اوئې ليدل چې حضرت جِزئِیل رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په عبادت کښې مصروف دے او ځنګلي ځناور (مثلاً زمرے، پړانګ وغيره) د هغوئي نه چاپيره څوکۍ کوي، د دې په ليدلو په فرعوني سپاهيانو باندې غونے زِيګ شو اوپه ويَره واپس اوتښتيدل .[1]

جسے تُو پکڑ لے اس کو چھڑا سکتا نہیں کوئی | اسے پھر کون پکڑے جس کو مولیٰ تُو رِہا کر دے

د دې نه پس په فرعون او د هغه په قوم باندې عذاب راغلو او هغوئي په درياب کښې غرق کړے شو.

---

[1]...تفسير جيلانی، پاره:24، سورۂ مؤمن، زيرِ آيت:44، جلد:4، صفحه:322۔

مَشِیَّت کس کے بَس میں، قَضَا سے کون لڑتا ہے | یہاں جو سَر اُٹھاتا ہے، اسے جھکنا ہی پڑتا ہے

.....

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** قرآنِ كريم كښې بيان شوې دې ايمان تازه كوونكي حكايت كښې د علم و حِكمَت ډير مدني ګلونه دي، يو اهم مدني ګُل د حضرت جِزئِيل رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ دا فرمان دے:

وَ اُفَوِّضُ اَمۡرِیۡۤ اِلَی اللّٰہِ ؕ (پاره24،سورۂ مُومِن:44)

**مفهوم ترجمه كنزُالعِرفان:** او زه خپل كارونه الله ته سپارم.

**تَفوِيض:** يعنې خپل مُعامَلات الله پاك ته حواله كول، كه هر څومره غټ ازمېښت راشي، هر څنګه مشكل راشي، خو چې د مُومِن بنده بس يو ذِهن وي:چې زه خپل مُعامَلات الله پاك ته حواله كووم. اوګورئ! حضرت جِزئِيل رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ خپله مُعامَله الله پاك ته حواله كړه نو الله پاك هغوئي ته د فرعون نه حفاظت وركړو او څنګلي ځناورو چې د انسان دُښمنان دي، الله پاك د هغوئي په ذريعه د هغه [حضرت جِزئِيل رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ] حفاظت اوفرمائيلو.

## د راحت اوآرام حاصلولو يوه نُسخه

د حجةُ الاسلام، امام محمد غزالي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ پير صاحب فرمائي: **دَعِ التَّدۡبِيۡرَاِلٰی مَنۡ خَلَقَکَ تَسۡتَرِحۡ** يعنې خپل تدبير خپل خالِق ته حواله كړه، په سكون او راحت كښې به اوسيږې . (1)

## انسان په خپل تدبير كښې ناقص دے

1...منهاج العابدين (مترجم)، صفحه:300۔

**خوږوا و محترمو اسلامي ورونړو!** دا خبره همیشه یاده ساتل پکار دي چې انسان په خپل تدبیر کښې ناقص دے. زمونږه عقل که ښه ډیر وي، په زرګاؤ سائنسي آلات راسره وي، که مونږه هر څومره ترقي اوکړو، بیا هم زمونږ تدبیر ناقص دے، اصل قُدرت، اصل طاقت، اصل تدبیر د الله پاك دے، الله پاك چې کوم تدبیر فرمائي هغه کامِل و اکمل وي.

**سُلطَانُ الْمُفَسِّرِین** حضرت عبدُالله بِن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ یوه ورځ تشریف فرما وو، خلق د هغوئي په خدمت کښې ناست وو، حضرت عبدُالله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خلقو ته د دِین خبرې زده کولې، یعنې یو د درس ورکولو ماحول وو، حضرت عبدُالله بِن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حضرت سُلَیمان عَلَیْهِ السَّلَام د هُد هُد [یعنې مُلا چرګك مرغۍ] مُتَعَلِّق اوفرمائیل چې هُد هُد د زمکې لاندې بهیدونکې اوبه وینې او د اوبو د جور والې اندازه هُم کوي.

د دې په اوریدلو یو کس سُوال اوکړو: دا څنګه کیدے شي؟ زمونږه ماشومان جالونه خور کړي، په هغې لږه خاوره واچوي او د پاسه پرې دانے واچوي، هُدهُد چې کله دانو خوړلو له راشي، نو زمونږ ماشومان ئې په جال کښې اونښلوي او اوئې نیسي. چې هُدهُد د لږې شان خاورې لاندې خور شوے جال نه شي لیدلے نو د زمکې لاندې څو څو فُټه لاندې رواني اوبه څنګه لیدے شي؟

حضرت عبدُالله بِن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د دې سُوال ډیر ایمان تازه کوونکے جواب ورکړو، اوئې فرمائیل: **اِذَا نَزَلَ الْقَضَآءُ وَالْقَدْرُ ذَهَبَ اللُّبُّ وَعَمِیَ الْبَصَرُ** یعنې چې کله تقدیر غالب شي نو عقل کار پریږدي او سترګې ړندې شي.[1]

---

[1] ...تفسیر بغوی، پارہ:9، سورۂ نمل، زیرِ آیت:20، جلد:3، صفحہ:392۔

هُم دا حال د انسان دے، د الله پاك تدبير هميشه غالب راځي، د انسان تدبير ناكامه پاتې شي. ❀ مولانا رُوم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په **مَثْنَوِى** شريف كښې يوه عبرتناكه واقعه ذِكر كړې ده، فرمائي: يو ځل يو فلسفي چرته روان وو نو د تلاوت قُرآنِ آواز ئې تر غوږه شو، يو كس د سورۀ مُلك تِلاوت كولو، چې كله هغه د سُورۀ مُلك د آخري آيت تِلاوت اوكړو، چې په هغې كښې الله پاك فرمائي:

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿۳۰﴾ (پاره29،سورۃالملک:30)

**مفهوم ترجمه كنزُالعِرفان:** تاسو اوفرمائې: ښه تاسو اُو خو ګورئ! كه چرې سحر له ستاسو اوبه په زمكه كښې ډُوبې شي نو هغه څوك دے چې تاسو له ستاسو د سترګو په وړاندې رواني اوبه راوړي؟

دا آيت ئې چې واوريدلو نو هغه فلسفي په تكبر او غُرور سره اووئيل: دا څه مشكله خبره ده، كه الله پاك په زمكه كښې اوبه ننباسي نو مونږ به ئې د سائنسي آلاتو په ذريعه بيا را اُوباسو. هغه كافِر او مُنكِر فلسفي دا خبره اوكړه او روان شو، د شپې چې كله اوده شو نو خوب ئې اوليدو چې يو طاقتور كس راغے،او دې فلسفي ته ئې په مخ يوه داسې تېزه څپېړه وركړه، چې هغې سره د هغه دواړه سترګې بهر را اووتلې او ورسره ورسره چې په سترګو كښې د نُور يو يو څاځكے اوبه وې هغه هم په زمكه اولويدې او اوچې شوې .

هغه څپېړه وهونكي هغه كس ته په دغه خوب كښې اووئيل: اے بدنصيبه! كه ته واقعي د كوداليې، كښَئ او نورو سائنسي آلاتو په ذريعه د الله د مدد نه بغير اوبه د زمكې نه راويستے شې نو د خپلو سترګو نه وتونكي دا دوه څاڅكي اوبه د زمكې نه را اوباسه....؟

سحر له چې فلسفي راپاڅيدو نو سترګې ئې راوتې وې او څه ئې نه ليدل او د غُرور او تکبر ټوله نشه ئې ختمه شوې وه او الله ئې وئيلو.

کسی کو تاجِ وقار بخشے، کسی کو ذِلّت کے غار بخشے

جو سب کے ماتھے پہ مہرِ قُدرت لگا رہا ہے، وہی خُدا ہے

❁ ټائي ټينك د دُنيا مضبوط ترين سمندري جهاز وو، هغې ته به ئې د سمندر بادشاه وئيلو، انجينيرانو په ټائي ټينك جوړولو کښې خپل پوره قُوَّت او مهارت استعمال کړے وو، د هغې په جوړولو کښې ووه نيم [7.50] ملين ډالره خرچ شوي وو او تقريباً په څلور کاله کښې تيار شوےوو، د ټائي ټينك مُتَعَلِّق دا دعوٰی کيدله چې دا جهاز کله هم نه شي ډوبيدے بلکه وائي چې د هغې مالِك وئيلي وو چې ټائي ټينك طوفانِ نُوح هم نه شي ډوبولے خو بدقسمتئ سره هغه سمندري جهاز صرف 4 يا 5 ورځې په سمندر کښې تيرې کړې، په خپل وړومبي سفر کښې ټائي ټينك د واورې د يو غټ خټ سره اوجنګيدو او ډوب شو.

دا دے د انسان د تدبير حال......! معلومه شوه چې انسان هر څومره ترقي اوکړي، هر څومره هم عقلمند شي، هر څومره طاقتور شي، بهرحال انسان په خپل تدبير کښې ناقص دے، او هم دا حقيقت دے، دا هيڅ څوك هُم دروغ کولے نه شي.

کسی کو سوچوں نے کب سراہا، وہی ہوا جو خُدا نے چاہا

جو اختیارِ بَشَر پہ پہرے بٹھا رہا ہے، وہی خُدا ہے

## د نتيجو مالك الله پاك دے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دلته په دې خبره هم غور اوکړئ چې مونږه په دې دُنيا کښې صرف د کار اختيار لرو، د نتيجو اختيار زمونږ سره نشته، د نتيجو مالِك الله

پاك دے، مونږه په دې دُنيا کښې [د کاميابئ] ښائسته ښائسته خوبونه وِينو، منصوبے جوړوو، محنت کوو، کار کوو، د خپل ځان له طرفه ډېر په اعتماد کښې يُو چې په خپل مقصد کښې به ضرور کاميابيږم خو هغه کيږي څه چې الله پاك ته منظور وي، نتيجه هم هغه راوُځي کومه چې الله پاك غواړي، الله پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِ ؕ﴿۳﴾ | ترجمه: د جزا د ورځې مالِك. |

مُفَسِّرِينِ کرام فرمائي: په دې آيت کښې د يَوۡمِ الدِّيۡن نه د قيامت ورځ مراد ده، په هغه ورځ به هر يو ته د هغه د عمل مطابق سزا يا جزا ورکړے شي خو که مونږه غور اوکړو نو په دې دُنيا کښې هم د مُکَافَاتِ عَمَل جاري دے (يعنې چې څه دِ کړي وي هغه به مومې). مونږه چې څه کوو، د هغې نتيجه راوځي، که ښه اوکړو نو ښه نتيجه ميلاويږي، او که بد اوکړو نو بده نتيجه راوځي او د دې نتيجے مالك مونږه نه يُو بلکه د دې نتيجے مالك الله پاك دے.

## د دريو شومانو ورونړو عبرتناك حکايت

د يمن يو ښار صَنعاء دے. د دغه ښار خوا ته نِزدې يو ښکلے باغ وو، دا باغ به شين او ميوه دار وو، په قرآنِ پاك کښې د دې باغ حکايت بيان شوے دے. په سيپارۀ 29، سورۀ قلم آيت: 17 نه 33 پورې د دې حکايت بيان شوے دے. علمائے کرام د دغه آيتونو په تفسير کښې فرمائي: د يمن د ښار صنعاء اوسيدونکے يو کس ډېر نيك او سخي وو، د هغه يو ښکلےباغ وو، د هغه عادت وو چې د هغه باغ څومره ميوه به پخپله په زمکه لويده، هغه به فقيرانو ته وئيل دا ټوله ستاسو ميوه ده، تاسو ئې ځان له راغونډه کړئ. بيا به چې کله د باغ نه ميوه شوکولے کيدله نو د ونو لاندې به کپړے خورې کړے شوې، کومه ميوه به چې په کپړو راوليده، هغه به ئې هم فقيرانو ته ورکوله، بيا

به چې کومه خالصه د هغه خپله حِصَّه وه، د هغې نه به ئې هُم لسمه حِصَّه فقیرانو ته ورکوله. د هغه کس درې ځامن وو او درې وارہ شومان وو، چې کله هغه کس وفات شو نو باغ ئې د درې وارو ځامنو په قبضه کښې راغلو، اوس هغوئې سوچ اوکړو:چې زمونږ پلار یواځې وو، هغه دومره ډیر سخاوت کولو، فقیرانو ته به ئې دومره ډیر مال ورکولو، د هغې نه پس به بیا هم د هغوئې د پاره ډیره میوه پاتې کیدله، خو مونږه درې کسان یُو، بیا زمونږه اولاد هم دے، که مونږه هم داسې سخاوت اوکړو نو زمونږ د پاره به میوه نه پاتې کیږي، لِهٰذا بهتري مو په دې کښې ده چې مونږه دومره سخاوت اونکړو. یوه شپه چې کله د باغ میوے پخې شوې، او صبا له میوه شوکول وو، دې درې وارو ورونړو منصوبه جوړه کړه، قسمونه ئې اوخوړل چې سحر وختې به په تیاره کښې، د خلقو د رابیداریدو نه مخکښې باغ ته ځُو او میوه به شوکوو چې مسکینان خبر نه شي.

هغه درې وارو د شپې منصوبه جوړه کړه، ډیر په جذبه کښی وو چې صبا به مونږه میوه شوکوو خو هغوئې یوه غلطي اوکړه. اوَّل خو ئې دا کار غلط کولو،چې د سخاوت نه ئې مخ اړولو او د کنجوسۍ اظهار ئې کولو او د کنجوسۍ نتیجه ذِلَّت دے، د دې سره سره هغوئې یوه بله غلطي دا هم اوکړه چې هغوئې په خپل ځان بروسه اوکړه، الله فرمائې:

وَلَا یَسۡتَثۡنُوۡنَ ﴿۱۸﴾ (پاره:29، القلم:18) | **ترجمه:** او هغوئې اِنۡ شَآءَ الله نه وئیله .

یعنې هغوئې په خپله منصوبه کښې دومره په جذبه او اعتماد کښی وو چې هغوئې اِنۡ شَآءَ الله هم اُونه وئیله، په خپل ځان باندې ئې اعتماد اوکړو، په خپل عقل، خپل تدبیر، او په خپله منصوبه ئې بروسه اوکړه. سحر وختې زر زر پاڅیدل، او په تیاره کښې باغ طرف ته روان شو، په لاره کښې به ئې یو بل ته وئیل: نن هیڅ یو مسکین، فقیر ستاسو

باغ ته رانشي. خو افسوس! چې كله هغوئي د باغ خوا ته اورسيدل نو اوئې ليدل چې باغ سوزيدلے وو، د يو ساعته پورې خو هغوئي بالكل خاموشه پاتې شو، هغوئي دا ګنړل چې كيدے شي په تياره كښې مونږه بے لارې شوي يو او د بل چا باغ ته راغلي يو، دا زمونږه باغ نه دے خو چې په غور سره ئې اوكتل نو هغه د هغوئي باغ وو. [1]

كسی كو سوچوں نے كب سراہا، وہی ہوا جو خُدا نے چاہا
جو اختیارِ بَشَر پہ پہرے بٹھا رہا ہے، وہی خُدا ہے

دا د انسان تدبير دے، دا د انسان منصوبے دي، كيږي هغه څه چې الله پاك ته منظور وي. اے عاشقانِ رسول! چې كله مُعامله داسې ده، زمونږ تدبيرونه هم ناقص، عقل مو هم ناقص، منصوبے مو هم ناقصې دي. مونږه چې څومره منصوبے جوړول اوغواړو، بيا هم تقدير غالب راځي او هميشه به غالبه راځي. ټول تدبيرونه ناكامه كيږي، منصوبے ناكامه كيږي، عقل كار پريږدي. نو بيا اوائې چې زمونږ سره څه پاتې كيږي؟ مونږه په خپل مقصد كښې د كاميابيدو د پاره څه كولے شو؟ مونږه چې په ژوند كښې د كاميابئ كوم خوبونه ليدلي دي، منصوبے مو جوړې كړې دي، مونږه كاميابي غواړو، ترقي غواړو نو مونږ له څه كول پكار دي؟ په خپل مقصد كښې د كاميابيدو طريقه څه ده؟ د دې سُوال صرف يو جواب دے، زمونږ سره د كاميابيدو صرف يوه طريقه ده او هغه دا ده:

وَ اُفَوِّضُ اَمْرِیْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ (پارہ24،سورۂ مُومِن:44)

مفہوم ترجمہ كنزُالعِرفان: او زه خپل كارونه الله ته سپارم.

چې مونږه په الله پاك بروسه اوكړو، خپل مُعامَلات الله پاك ته اوسپارو، د كاميابئ

[1] ...تفسير صراط الجنان، پارہ:29، سورۂ القلم، زيرِ آيت:17 تا 32، جلد:10 صفحہ:293 تا 296 ماخوذاً۔

يوه لاره ده او څنګه د ايمان نه ډکه خبره ده، زمونږه الله پاك په مونږه رحم كوونكے دے، الله پاك خپلو بندګانو سره محبت كوي، په چا د يوے ذرے همره ظُلم هُم نه كوي، الله پاك د محنت كوونكو محنت نه ضائع كوي، ارشاد فرمائي:

اِنَّا لَا نُضِيۡعُ اَجۡرَ مَنۡ اَحۡسَنَ عَمَلًا ﴿۳۰﴾

(پاره:15، سورۀ كهف، آيت:30)

**ترجمه:** بيشكه مونږه د هغوئي اجر نه ضائع كوو كوم چې ښه عمل كوونكي وي.

مونږ كه منصوبه جوړه كړو، تدبير اوكړو، بيا د كاميابئ د پاره چې څومره محنت ضروري دے، هغه همره محنت هُم اوكړو خو نتيجه الله پاك ته سپارل پكار دي، اِنۡ شآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! اووائيو، په زړه كښې دا پوخ يقين اوساتو چې زه محنت كووم، د دې محنت نتيجه الله پاك ته حواله كووم. كه الله پاك اوغواړي نو مونږ ته به كاميابي نصيب شي.

## د اِنۡ شآءَ الله وئيلو قرآني حكم

په سيپارۀ 15، سورۀ كهف آيت: 23 او 24 كښې الله پاك ارشاد فرمائي:

وَلَا تَقُوۡلَنَّ لِشَاۡىۡءٍ اِنِّىۡ فَاعِلٌ ذٰلِكَ غَدًا ﴿۲۳﴾ اِلَّاۤ اَنۡ يَّشَآءَ اللّٰهُ

(پاره:15، سورۀ كهف، آيت:23، 24)

**ترجمه:** او هيڅ كله د يو څيز مُتَعَلِّق مه وايه چې صبا دا كوونكے يم خو دا كه الله ئې اوغواړي.

د اِنۡ شآءَ الله معنىٰ ده: كه الله پاك اوغواړي. مونږ چې كله د څه اراده اوكړو مثلاً زه به پينځه منټه پس دا كار كووم، لس منټه پس به دا كار كووم، ماښام به ئې كووم، صبا به ئې كووم، يو كال پس به ئې كووم، دوه كاله پس به ئې كووم، د دې ارادے سره به مونږه اِنۡ شآءَ الله لازمي وائيو او كه بالفرض اِنۡ شآءَ الله را نه هير شي نو څه به كوو؟ الله

پاك فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيْتَ (پارہ:15، سورۂ کہف، آیت:24) | **ترجمه:** او چې كله تاسو نه هير شي، نو خپل ربّ ياد كړئ. |

يعني كه اِنْ شَآءَ الله وئيل درنه هير شي نو چې كله در ياد شي هغه وخت ئې اووائئ، حضرت عبدُالله بِن عبّاس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا فرمائي: كه كال پس درياد شي چې يو كال مخكښې ما د فلانكي كار اراده كړي وه، په هغې مې اِنْ شَآءَ الله نه وو وئيلے نو كال پس چې درياد شي نو [اِنْ شَآءَ اللّٰه] اووايه.[1] غرض دا چې كله ورياد شي هغه وخت دِ اِنْ شآءَ الله اووائي.

## اِنْ شآءَ الله وئيل د انبياؤ سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اِنْ شآءَ الله وئيل د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام سُنَّت دي، د الله پاك نبيانو عَلَيْهِمُ السَّلَام به اِنْ شآءَ الله وئيلو، په قرآنِ كريم كښې هم په ډيرو ځائيونو كښې د دې ذِكر دے، مثلاً ❀ په سيپارۀ 12، سورۀ هُود، آيت: 33 كښې د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام د اِنْ شآءَ الله وئيلو ذِكر دے، ❀ په سيپارۀ 13، سورۀ يُوسُف، آيت: 99 كښې د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام د اِنْ شآءَ الله وئيلو ذِكر دے، ❀ په سيپارۀ 15، سورۀ كهف، آيت:69 كښې د حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَام د اِنْ شآءَ الله وئيلو ذِكر دے، ❀ په سيپارۀ 23، سورۀ صافات، آيت: 102 كښې د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د اِنْ شآءَ الله وئيلو ذِكر دے، دغه شان نورو انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام هم اِنْ شآءَ الله وئيلي دي،

[1] ...تفسیر صراط الجنان، پارہ:15، سورۂ کہف، زیرِ آیت:24، جلد:5، صفحہ:556۔

❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! اِنْ شَآءَ الله وئیل زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم سُنَّت دي.
❀خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله د څه خبرې اراده فرمائیله نو اکثر به ئې اِنْ شَآءَ الله وئیلو، ❀ یو ځل خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت ذِکر کولو، اوئې فرمائیل: زما هر اُمَّتـي کوم چې شرك اونکـړي، اِنْ شَآءَ الله زما شفاعت به هغه ته رسي. (1)

## د اِنْ شَآءَ الله وئیلویو څو برکتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له هم پکـار دي چې د مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو باندې عمل اوکړو او د اِنْ شَآءَ الله وئیلو عادت جوړ کړو. د اِنْ شَآءَ الله وئیلو ډیر برکتونه دي❀ اِنْ شَآءَ الله وئیلو کښې د عقیدے اصلاح ده،❀ اِنْ شَآءَ الله وئیلو کښې د عمل اصلاح ده،❀ اِنْ شَآءَ الله ویوونکـے دا اقرار کوي چې زه بنده یم او بنده د خپل مالك د مرضئ تابع وي،❀ اِنْ شَآءَ الله وئیلو والا د دې خبرې اقرار کوي، چې زه هیڅ نه یم، زما مرضي هیڅ نه ده، څه چې دي صرف زما د مالك دي، د الله پاك د مرضئ نه بغیر پانړه هم نه شي ړقیدے.❀ اِنْ شَآءَ الله وئیلو والا د توحید په تقاضو باندې عمل کوي،❀ اِنْ شَآءَ الله وئیلو کښې د خود پسندئ [یعني د ځان ښه ګنړلو] انکـار دے،❀ اِنْ شَآءَ الله وئیلو کښې د غرور و تکـبر انکـار دے،❀ اِنْ شَآءَ الله وئیلو والا خپله مرضي د الله پاك مرضئ ته سپاري او کوم بنده چې خپله مرضي فنا کړي، خپل ځان د الله پاك مرضئ ته اوسپاري، هغه بنده ته کامیابي نصیب کیږي.

## چې کله یاجوج ماجوج اِنْ شَآءَ الله اووائي

---

1 ...کتابُ الزُّہد لِاِبْنِ مبارک، صفحه:312، حدیث:1068۔

د یاجوج ماجوج مُتَعَلِّق مشهور روایت دے، یاجوج ماجوج د انسانانو یوه قبیله ده، دا سخت خونخواره، ظالِمان او ډېر طاقتور دي، د شپاړسمې سیپارې په دویمه رکوع کښې د دوئي واقعه ذِکر شوي ده، دوئي به په خلقو ظُلم کولو، حضرت سکندر ذُوالقرنَین رَحْمَةُاللهِعَلَیْه دوئي د یو مضبوط دیوال شا ته قید کړل، هغه دیوال ته "سَدِّ سکندري" وائي، د تِرمذی شریف د حدیثِ پاك خلاصه ده: یاجوج ماجوج هره ورځ هغه دیوال ننړوي، تر دې پورې چې کله دیوال ماتیدلو ته نِزدې شي نو د هغوئي سردار وائي: اوس بیرته لاړ شئ، باقي [دیوال] به صبا له مات کړو. چې کله هغوئي لاړ شي نو الله پاك هغه دیوال د مخکښې نه زیات بهتر جوړ کړي، قیامت ته نِزدې چې کله د یاجوج ماجوج قید پوره شي او الله پاك هغوئي په خلقو رالیږل اوغواړي، هغه ورځ به د هغوئي سردار اووائي: بیرته لاړ شئ! اِنْ شآءَ الله صبا له به دا مات کړو، چې صبا له هغوئي راشي نو دیوال به هغه شان [لړ پاتې] وي څنګه ئې چې پریښودے وو، په هغه ورځ به یاجوج ماجوج دیوال مات کړي او بهرته به ترینه را اوځي.[1]

## د بنــي اسرائیلو د غوا واقعه

الله پاك په قرآنِ کریم کښې د بنــي اسرائیلو واقعه ذِکر فرمائیلي ده، د بنــي اسرائیلو د غوا حکایت په سورۂ بقره کښې دے، په دې مناسبت سره دغه سورت ته سورۂ بقره وئیلے کیږی، یعنې هغه سورت په کوم کښې چې د غوا عجیبه حکایت ذِکر شوے دے.

واقعه څه داسې ده چې یو ځل بنــي اسرائیلو یو مړے اوموندلو، د هغه قاتِل معلوم نه وو، بنــي اسرائیل حضرت موسٰی عَلَیْهِالسَّلَام له راغلل او د قاتل معلومولو درخواست ئې

[1] ...ترمذی، کتاب: تفسیر القرآن، باب: سورۃ الکهف، صفحه: 728، حدیث: 3153۔

اوكړو، حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلام د الله پاك په حكم اوفرمائيل: يوه غوا ذبح كړئ. بني اسرائيلو له پكار وو چې فوراً ئې يوه غوا ذبح كړي وے او د الله پاك په حكم ئې عمل كړے وے، خو بني اسرائيلو تپوسونه شروع كړل.

دا سخته د عبرت خبره ده، الله پاك چې كوم حكم ارشاد اوفرمائي. د الله پاك نبي چې كوم حكم اوفرمائي، په هغې باندې زر عمل كول پكار دي، د الله او رسول په حكم باندې تپوسونه كول، اخوا ديخوا كول، تحقيق كول، دا د بنده كار نه دے، بنده خو بنده دے، هغه له پكار دي چې په حكم عمل اوكړي او بس.... چا څه ښكلې خبره كړې ده:

| | |
|---|---|
| عَاشِقاں رَا چِہ کار بَا تحقیق | ہَر کُجَا نَامِ اُوسْتْ قُرْبَانِیم |

**ترجمه**: د عاشقانو د تحقيق سره څه كار دے؟ چرته چې د محبوب نوم راشي، نو پرې قربانيږي.

چې الله پاك او د هغه نبي اوفرمائيل نو بيا تحقيق كول، سوالات كول د بنده كار نه دے، خير! بني اسرائيلو د حكم په اوريدلو سوالونه شروع كړل: چې د هغه غوا عمر څومره پكار دے؟ حكم اوشو: چې نه بوډۍ وي او نه ځوانه، بلكه د دې په مينځ كښې چې وي، بني اسرائيلو بيا تپوس اوكړو: رنګ به ئې څنګه وي؟ حكم اوشو: چې رنګ ئې زيړوی ، اوّل چې ورته كوم حكم ملاو شوے وو، كه هر څنګه غوا ئې قربان كړے وے نو په حكم به عمل شوے وے، خو هغوئي تپوسونه شروع كړل، څنګه څنګه چې تپوسونه كيدل، دغه شان ورسره قيدونه لګيدل، بيا هغوئي تپوس اوكړو چې: د غوا مُعامله مكمله واضحه نه شوه، اے موسٰی عَلَیْہِ السَّلام! دُعا اوكړئ چې زمونږ د پاره د غوا مُعامَله پورا واضحه شي.

وَ اِنَّاۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ لَمُهْتَدُوْنَ ۝ (پارہ1،سورۃالبقرۃ:70)

ترجمه: او که الله اوغواړي نو یقیناً مونږ به لار اومومو.

په دریم سوال باندې هغوئي اِنْ شَآءَ الله اووئیلو، نو بیا د هغوئي د پاره د غوا پورا نښې بیان کړے شوې، په حدیثِ پاك کښې دي: که هغوئي اِنْ شَآءَ الله نه وے وئیلے نو د هغوئي د پاره د غوا مُعامَله نه واضحه کیدله. خیر! بیا بنـي اسرائیلو د شرائطو مطابق د غوا لټون شروع کړو، په پوره علاقه کښې صرف یوه غوا داسې میلاؤ شوه، بنـي اسرائیلو په ګران قیمت هغه غوا واخسته او ذبح ئې کړه، بیا ئې د غوا د غوښې یوه ټکړه هغه مړي له ورورړه نو د الله پاك په قدرت سره مړے ژوندے شو، هغه د خپل قاتل نوم اوښودلو او بیا مړ شو.(1)

**اے عاشقانِ رسول!** تاسو اولیدل! د اِنْ شَآءَ الله څومره برکتونه دي. که بنـي اسرائیلو اِنْ شَآءَ الله نه وے وئیلے نو د هغوئي د پاره د غوا مُعامَله نه ښکاره کیدله، او هغوئي به په خپل مقصد کښې نه وے کامیاب شوي. چې کله هغوئي خپله مرضي او اراده فنا کړه، خپله مرضي او اراده ئې الله پاك ته اوسپارله نو الله پاك هغوئي ته په خپل مقصد کښې کامیابي ورکړه. **مشهور مفسرِ قرآن، حکیم الاُمَّت حضرت مفتی احمد یار خان نعیمی** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په هر اُمِّید باندې اِنْ شَآءَ الله وئیل ضروري دي، ګنې هغه امید به نه پوره کیږي. په اِنْ شَآءَ الله وئیلو کښې د عقیدے او عمل اصلاح ده، د دې نه معلومیږي چې اِنْ شَآءَ الله وئیلو والا په خپل طاقت بروسه نه کوي بلکه د ربّ په مدد بروسه کوي.

---

1 …تفسیر صراط الجنان، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:67تا70، جلد:1، صفحہ:143141 خلاصۃً۔

خيال لرئ! صرف په جائز او ښه کار باندې اِنْ شآءَالله وئيل پکار دي، په حرامو څيزونو، مصيبتونو او آفتونو باندې اِنْ شآءَالله نه وائي . مَثَلاً دا اووائي چې: اِنْ شآءَالله زه به لمُونځ ادا کووم، خو دا مه وائې چې اِنْ شآءَالله زه به غلا کووم. داسې اُووائې چې: اِنْ شآءَالله مريض ته به آرام حاصل شي. داسې مه وائې چې: اِنْ شآءَالله مرض به خور شي ځکه چې مرض مصيبت او آفت دے، که چرې داسې خبره کول وي نو لفظ "انديښنه" [يا خطره] استعمالول پکار دي، مثلاً داسې چې: دا انديښنه [يعني خطره] ده چې وبا به خوره شي، طوفان به راشي وغيره. داسې ځائے کښې اِنْ شآءَالله وئيل ټيك نه دي. (1)

## د وهم پرستئ نه د خلاصي لاره

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اِنْ شآءَالله ډير برکتونه دي، که مونږه د اِنْ شآءَالله مفهوم په زړه کښې کښينوو يعني په زړه کښې پوخ يقين اوکړو چې که الله پاك اوغوښتل نو دا کار به اوشي کنې نه شي کيدے. په دې يقين سره که په هر کار کښې د اِنْ شآءَالله وئيلو زمونږ عادت جوړ شي نو د دې په برکت به مونږه د وهم پرستئ، بدفالئ او بيشميره جاهلانه حرکتونو نه بچ شو. د مثال په طور يو کس د يو اهم کار د پاره د کور نه اووتلو او هغه د اِنْ شَآءَاللّٰه معنٰى په ذِهن کښې ياده لرلو سره اُووئيل چې: اِنْ شآءَالله زه به فلانکے کار ضرور کووم. بيا ئې په لاره کښې تور پيشو اوليدو [يا بل داسې څيز ئې اوليدلو چې خلق ترينه بد فال اخلي] نو دا به کور ته بيرته نه راځي، دا بنده به داسې سوچ نه کوي چې ما تور پيشو اوليدو نو اوس زه په خپل مقصد کښې نه شم کاميابيدے. ولے؟ په دې وجه چې هغه دا خپل ذِهن جوړ کړے

1 ...تفسير نعيمى، پاره:1، سورۀ بقره، زيرِ آيت:70، جلد:1، صفحه:467، خلاصةً۔

دے چې: اِنْ شَآءَ الله يعنې كه الله پاك اوغواړي نو زه به دا كار اوكړم، اوس كه تور پيشو په لاره كښې راشي يا تور كارغه ئې په مخه تير شي، غرض دا چې كه هر څه كيږي، كه الله پاك اوغواړي نو زه به په خپل مقصد كښې كامياب شم، د دُنيا يو طاقت ما نه شي ناكامه كولے. او كه الله پاك نه غواړي نو كه هر څومره كوشش اوكړم، د دُنيا يو طاقت هُم ما نه شي كاميابولے.

معلومه شوه چې كه مونږه د اِنْ شَآءَ الله وئيلو عادت جوړ كړو او د اِنْ شَآءَ الله په مفهوم باندې پوخ يقين اوساتو نو د دې په بركت به مونږه د بدفالئ نه بچ شو.

## د صفر مياشت سپيره نه ده

اوس څنګه چې د صَفَرُ الْمُظَفَّر مياشت ده، ډير وهم لرونكي خلق د صفر مياشت د مصيبتونو او آفتونو مياشت ګنړي، ❀ [بعضې خلق] خاص طور د دې د شروع ديارلس ورځې سپيرے ګنړي، ❀ د وهمي طبيعت لرونكو دا ذِهن جوړ شوے دے چې د صفرې په مياشت كښې نوے كار شروع كول نه دي پكار، ګني د نقصان خطره ده، ❀ داسې هُم وائي چې په صَفَرُ الْمُظَفَّر كښې د سفر نه بچ كيدل پكار دي، د حادثے كيدو خطره ده، ❀ څوک وائي په دې مياشت كښې واده مه كوئ، خپلې لونړه مه واده كوئ، د كور بربادېدو انديښنه يعني خطره ده، ❀ ډير وهمي خلق د صَفَرُ الْمُظَفَّر په مياشت كښې غټ كاروبار نه شروع كوي، ❀ كاروباري اخستل خرڅول نه كوي، ❀ د كور نه بهر ډير كم اوځي، دا ټولې بدفالئ دي، وهمي طبيعت دے، د بروسې كمي ده. په حديثِ پاك كښې دي: لَاصَفَرَ صفر هيڅ نه دے. (1) يعني د خلقو د صفر مياشت سپيره ګنړل غلط دي.

---

1 ...بخاری، کتابُ الطِّب، بابُ الْجُذَام، حدیث:5707۔

## بدفالي عالمي بيماري ده

**اے عاشِقانِ رسول!** بدفالي عالمي بيماري ده او د حيرانتيا خبره دا ده چې غټ غټ ترقي يافته ملکونو کښې هم دا بيماري خوره ده، په مختلفو ملکونو کښې خلقو عجيبه عجيبه وهمونه په خپلو زړونو کښې ساتلي دي، مَثَلاً ❀ که سحر ئې يو ړوند کس سره ملاقات اوشو ❀ يا د يوے سترګې والا سړے ئې په مخه تير شو، ❀ څوك ګوَډ ورسره ميلاؤ شو، ❀ تور کارغه يا تور پيشو ئې په مخه تير شو، ❀ کار له تللو وخت کښې په لاره کښې ئې څه بد آواز واوريدلو نو بدفالي ترينه اخلي چې اوس به زما کار نه کيږي، ❀ د ورځو نه بدفالي اخلي، ❀ د ايمبولينس د آواز نه، ❀ اور مړ کولو والا ګاډي يعني د فائر بريګيډ د ګاډي د آواز نه بدفالي نيسي، ❀ بعضې خلق د ميلمنو رخصتيدو نه پس په کور کښې جارو وهل سپيره ګنړي، ❀ چې څوك سترګه ئې اورپيږي نو په يقين سره وائي چې څه مصيبت به راځي، ❀ اختر که د جُمعے په ورځ راشي نو دا په حکومت باندې درون ګنړي، ❀ د پيشو د ژړا آواز سپيره ګنړي، ❀ چرګ [يعني بانګي] چې د ورځې اذان اوکړي نو په بدفالئ کښې اخته کيږي تر دې چې ذبح کوي، ❀ د دُکان نه که وړومبے ګاهك د سودا اخستلو نه بغير لاړ شي نو دُکاندار د هغې نه بدفالي اخلي، ❀ نوي ناوې کورته راتلو باندې که په کور کښې څه واقعه پيښه شي نو هغه ناوې سپيره ګنړي. ❀ په ځوانئ کښې کوَنده شوې زنانه سپيره ګنړلے کيږي، ❀ خالي قينچي چلول سپيره ګنړلے کيږي، ❀ د لمَر تندر نيولو وخت کښې دِ حامله زنانه په چړې څه څيز نه کټ کوي ګني چې بچے ئې پيدا شي نو د هغه لاس ښپه به کټ شوي وي، ❀ په غټو غټو ترقي يافته ملکونو کښې د نمبرو نه بد فالي اخستلے کيږي، ډيرې نمبرې سپيرې ګنړلے کيږي، مثلاً ❀ نمبر13 سپيره ګنړلے کيږي، په دې وجه په عمارتونو کښې 13 نمبر عمارت نه وي، بلکه د 12 نه ډائرکټ 14 نمبر منزل راځي، په

هسپتالونو کښې 13 نمبر بستره يا کمره نه جوړوي، په ډيرو جهازونو کښې 13 نمبر سيټ هم نه ساتي.

❀ دغه شان د تندر نيولو مُتَعَلِّق ډيرې وهمي خبرې مشهورې دي: مثلاً ډيرو ځائيونو کښې د خلقو دا سوچ دے چې لـمر تندر هله نيسي چې کله بلاګانې او خوفناك ځناور د لمَر سترګه خوري، د يو ويب سائټ نه اخستې معلوماتو مطابق چې کله به سپوږمۍ تندر اونيوله نو د پخوانې چين خلق به را جمع شو او په ډير قوت او زور سره به ئې شور جوړ کړو، د هغوئې عقيده وه چې يو غټ خامار سپوږمۍ خوري، او زمونږ دا شور د سپوږمۍ بچ کولو کوشش دے.

غور اوکړئ دا د ترقي يافته ملکونو حال دے کوم چې دِينِ اسلام ته ډير زوړ مذهب وائي، او خنداګانې ور پورې کوي، پخپله د هغوئې حال اوګورئ! پخپله په کوم دور کښې روان دي، د نن نه زرګونو کاله مخکښې به کافرو خلقو بدفالې اخستله، مثلاً فرعون او د هغه په قوم به چې کله بد وخت راغے، يعني د الله پاك له طرفه به چې پرې عذاب راغلو نو وئيل به ئې.

وَ اِنۡ تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٌ يَّطَّيَّرُوۡا بِمُوۡسٰى وَ مَنۡ مَّعَهٗ ؕ (پاره:9، سورهٔ اعراف، آيت:131)

**ترجمه:** او چې کله دوئې ته بدي رسيږي نو هغه ته د موسٰی او د هغه د ملګرو بدفالي ګڼړي.

دا اصل دَقيانوسِيَّت [يعنې د زوړ دَور ذِهن] دے، نمرود، فرعون او هامان وغيره هم دا ذِهن لرلو...! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اسلام پاك دِين دے، اسلام مونږ ته د وهم پرستۍ نه نجات راکوي، دا د اسلام تعليم دے چې په دې دُنيا کښې حقيقي مُؤَثِّر صرف الله پاك دے، چې الله پاك اوغواړي نو غر به يوه وړوکې ذره جوړه شي، او که الله پاك نه غواړي نو يوه ذره هم د خپل ځائے نه حرکت نه شي کولے، اسلام زمونږه فِکر روښانه کوي، اسلام

زمونږه زړه روښانه كوي، اسلام زمونږه ذِهن صحيح كار كولو والا جوړوي، اسلام مونږه د وهم پرستئ د قيد نه خلاصوي.

## د بدفالئ په باره كښې 4 فرامينِ مصطفٰى

۞ زمونږ خوږ آقا مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: لَيۡسَ مِنَّا مَنۡ تَطَيَّرَ وَلَا تُطُيِّرَلَهٗ چا چې بدفالي اوكړه او د چا نه ئې چې بدفالي واخسته، هغه زمونږ نه نه دے.[1] ۞ زمونږ خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چا چې بدفالي اوكړه يا چا د غشو په ذريعه فال اوباسلو يا څوك د بدفالئ په وجه د سفر نه بيرته راغے هغه كس كله هم اوچتو درجو ته نه شي رسيدے.[2] ۞ سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اوفرمائيل: اَلطِّيَرَةُ شِرۡكٌ، اَلطِّيَرَةُ شِرۡكٌ، اَلطِّيَرَةُ شِرۡكٌ بدفالي اخستل شرك دے، بدفالي اخستل شرك دے، بدفالي اخستل شرك دے.[3]

د دې حديثِ پاك تحت عُلمائے كرام فرمائي: د جاهليت په زمانه كښې به خلقو بدفالي نيوله، د هغوئي عقيده وه چې د بدفالئ په تقاضو باندې عمل كولو سره هغوئي ته نفع حاصليږي، د مثال په طور يو كس كار د پاره بهرته اووتلو او په لاره كښې پيشو مخې له ورغے، اوس كه دا بيرته راغے نو د جاهليت د زمانے د خلقو عقيده وه چې په داسې كولو مونږ ته فائده كيږي، په دې وجه په حديثِ پاك كښې بدفالئ ته شرك اووئيل شو، كه يو بنده صرف بدفالي نيسي او ورسره دا عقيده هم ساتي چې هغه څه كيږي كوم چې الله پاك غواړي، د دې نه علاوه د دُنيا يو طاقت هم د الله پاك د مرضئ خلاف څه نه

1 ...مُسْنَدِ بَزَّار، جلد:9، صفحه:52، حديث:3578۔
2 ...مجمعُ الزّوائِد، جلد:5، صفحه:144، حديث:8487۔
3 ...ابوداؤد، كتَابُ: الطِّبُ، صفحه:615، حديث:3910۔

شي کولے، په دې صورت کښې بدفالي نیول شرکِ خَفِـي (یعنې د ګناه کار) دے او که یو بنده دا عقیده اوساتي چې ستوري په خپل طاقت سره، د الله پاك د مرضئ نه بغیر خلاف هم اَثَر کولے شي، په دې صورت کښې دا بدفالي شِرکِ جلي دے او دا کفر دے. (1)

۞ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **مَنْ رَدَّتْهُ الطِّيَرَةُ عَنْ شَيْءٍ فَقَدْ قَارَفَ الشِّرْكَ** کوم کس چې د بدفالئ په وجه د یو څیز نه منع شو هغه په شرك کښې ککړ شو. (2)

## اسلامي تعلیمات

**اے عاشِقانِ رسول!** غور اوکړئ! وهم پرستي، بدفالي څومره خطرناکې باطني بیمارئ دي او دا نن هم د وړو وړو کلو نه ترقي یافته ملکونو پورې خورې شوي دي، اوس د اسلامي تعلیماتو کمالات اوګورئ چې اسلام مونږ ته اِنْ شَآءَالله وئیل زده کړي دي، د قرآنِ کریم د یو آیت په یو جُز کښې حکم ورکړے شوے دے چې د څه کار کولو اراده مو وي نو د هغې سره اِنْ شَآءَالله لازمي وائې او دا یقین ساتئ چې که الله پاك اوغواړي نو زه به په خپله اراده کښې کامیاب شم. د اسلام صرف دې یو تعلیم د ټولو وهمونو انکار ښودلے دے.

سُبْحٰنَ الله! دا د اسلام جامعیت دے او دا د اسلام عالمګیر، پاك او ښکلے ښائسته تعلیم دے. الله دِ مونږ ټولو ته د اسلام په تعلیماتو باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

د بدفالئ مُتَعَلِّق تفصیلي معلوماتو د پاره د مکتبةُ المَدینه کتاب "**بدشگونی**" ېخپله هم اولولئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ.

---

1 ...مِرْقَاةُ شرح مشکوٰة، کتابُ الطِّب، جلد:8، صفحه:398، زیرِ حدیث:4584۔

2 ...مجمعُ الزَّوائِد، کتابُ الطِّب، جلد:5، صفحه:127، حدیث:8415۔

**اے عاشِقانِ رسول!** د نن نه خپل دا پوخ ذِهن جوړ کړئ چې اوس کله هم د څه کار اراده کووم،نو هغې سره به **اِنْ شآءَ الله** لازمي وائم او یقین به ساتم چې الله پاك اوغواړي نو د دُنیا یو طاقت هُم زما لاره نه شي بندولے.

یوه بله خبره دا ده چې زمونږ بعضې خلق دُرُست **اِنْ شآءَ الله** نه شي وئیلے. **اِنْ شآءَ الله** د عربئ لفظ دے نو په عربئ کښې دِ ادا کړے شي، د دې په آخره کښې **ھا** راځي، عام طور خلق په آخر کښې د **ھا** په ځائے **الف** وائي، د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ مبارك انداز دے چې هغوئي **اِنْ شآءَ اللهُ الْكَرِیْم** لولي چې د لفظِ **الله ھا** دُرُست او پوره اولوستلے شي. الله پاك دِ مونږ ټولو ته د دُرُست اسلامي تعلیماتو زده کولو، پوهه کیدلو او په هغې د عمل کولو توفیق را عطا کړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## 12 دیني کارونو کښے یو دیني کار :"نیك اعمال"

**اے عاشقانِ رسول!** د اسلام تعلیمات زده کولو او په هغې باندې د عمل جذبه پیدا کولو د پاره د عاشقانِ رَسُول دینی تحریك دعوتِ اسلامی دیني ماحول سره وابسته شئ، او دولسو دیني کارونو کښې د زړه په اخلاص سره حصه واخلئ. **اِنْ شآءَ اللهُ الْكَرِیْم!** د دِین و دُنیا بیشمیره نیکئ به حاصلې کړئ.

د دعوتِ اسلامی 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **72 نیك اعمال** دي. دا د شیخِ طریقت، اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ عطا شوي د نیك جوړیدو بهترینه نُسخه ده، اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ خپلو مریدانو، طالبانو او عقیدتمندو بلکه د ټولې دُنیا د عاشقانِ رسول د تربیت د پاره خپل علمي، روحاني تجربو په رڼړا کښې 72 سوالونه لیکلي دي، د هر سُوال لاندې خانے جوړې دي، د هرې ورځې خپلو اعمالو باندې غوروفِکر کول وي او دغه خانے ډکول وي. 72 نیك اعمال د نیك جوړیدلو یوه

قيمتي نُسخه ده.دا رساله د **مكتبةُ المَدينه** نه قيمتاً واخلئ او هره ورځ ئې ګورئ او د 72 نيك اعمال مطابق ژوند تيرولو خپل معمول جوړ كړئ . ټول اسلامي ورونړه دِ دا رساله ضرور حاصله كړي او د دې مطابق دِ د خپل ژوند تيرولو كوشش كوي. د دې رسالے په بركت ډير ګنهګاران په نيغه لاره روان شوي دي. د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورئ:

## د نيك جوړيدو زبردسته نُسخه

د كراچئ د يو اسلامي ورور بيان دے: زمونږ د جمات امام صاحب كوم چې د دعوتِ اسلامي د ماحول سره تعلق لري، هغوئي يوه ورځ زما مشر ورور ته د نيك اعمالو رساله په تحفه كښې وركړه، هغوئي [رساله] كور ته راوړه، چې اوئې لوستله نو حيران پاتې شو چې په دې مختصره رساله كښې يو مسلمان ته د اسلامي ژوند تيرولو څومره زبردسته فارمولا وركړے شوي ده. د نيك اعمالو رساله ميلاويدلو په بركت هغوئي ته د لمُونځ جذبه نصيب شوه او د جَمعي لمُونځ ادا كولو د پاره جمات ته حاضر شو او اوس پينځه وخته لمُونځ ګزاره جوړ شوے دے، مخ ئې هم په ګيره مباركه ښائسته كړو او د نيك اعمالو رساله كښې خانے هم ډكوي.

مدنی اِنعامات کے عامل پہ ہر دم ہر گھڑی | یاالٰہی! خوب برسا رحمتوں کی تُو جھڑی

**نوټ**: د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول كښې اوس "مدني انعاماتو" ته"نيك اعمال"وئيل كيږي.

## اَلْقُرْآن مَعَ التَّفْسِيْر ايپلى كيشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دعوتِ اسلامي **آئى. ټى ډيپارټمنټ** يو زبردست موبائل ايپلي كيشنز *Quran with Tafseer* (**اَلْقُرْآن مَعَ التَّفْسِيْر**) جوړ

کړے دے. په دې اپیلي کیشن کښې قرآنِ کریم، ترجمۂ کنزُالایمان، ترجمۂ کنزُ العرفان او تفسیر صراطُ الجِنان شامِل دي . په خپل موبائل کښې دا اپیلي کیشن انسټال کړئ، قرآنِ کریم اولولئ، ترجمه اولولئ، او تفسیر اولولئ او په قرآنِ کریم ځان پوهه کړئ، د دې برکتونه حاصل کړئ او نورو ته ئې ترغیب ورکړئ.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صلَّی اللہ تعالٰی علیہ والہٖ وسلَّم اِرشاد فرمائي: ”چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي.“ (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا    جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا    جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## ”نیک فال اخستل“ سُنَّتِ مُصطفٰی دي

**فرمانِ مصطفٰی** : بدفالي هیڅ څیز نه دے او [نیک] فال ښه څیز دے. خلقو عرض اوکړو: فال څه څیز دے؟ اوئې فرمائیل: ښه کلمه [ښه جُمله] کومه چې د چا نه واوري. **(1)**

**د نیک فال مطلب:** مثلاً څوک په څه کار اوځي، او په لاره کښې تلاوتِ قرآن واوري یا د یو بُزُرګ کس اُووِیني نو د هغې نه امید تړل چې **اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم!** په مقصد کښې به کامیاب شم، دا نیک فال دے.

1 ...بُخاری، کتاب:الطب، باب: الطیرة، صفحه:1454، حدیث:5754۔

نيك فال نيول شرعاً مُستَحَب دي او د خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ثابت دي. مُفسّرِ قرآن، حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نيك فالي ته سُنَّتِ مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ليکلي دي. (1) زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به نيك فال اخستل خوښولو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ډيرو موقعو باندې نيك فال نيولے دے، مثلاً ❁ د صُلح حُدَيبِيه په موقع باندې د کافرانو سره مذاکرات کول وو، په دې وجه د کافرو له طرفه سُهَيل بِن عَمرو (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) سفير جوړ شو (هغه وخت هغوئي اسلام نه وو قبول کړے) خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي د نوم نه نيك فال واخستلو، او اوئې فرمائيل: **قَدْ سَهُلَ لَكُمْ مِنْ اَمْرِكُم** يعنې اوس به ستاسو کار اسان شي. (2) ❁ يو ځل حضرت بُريده اسلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپلې قبيلے اويا کسانو سره د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي نه تپوس اوکړو: تاسو څوك ئې؟ عرض ئې اوکړو: **اَنَا بُرَيْدَه** زه بُرَيده يم، رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي د نوم نه نيك فال اوخستلو، اوئې فرمائيل: **بَرَدَ اَمْرُنَا وَصَلُحَ** زمونږه مُعامَله يخه او ټيك شوه. (3)

**خيال لرئ!** نيك فال د يوې ښې خبرې، د نيك کس د ليدلو يا بابرکته ورځو نه اخستلے شئ، مرغو، ځناورو نه چې څنګه بدفال اخستل منع دي دغه شان د مرغو او ځناورو نه د نيك فال اخستلو هم اجازت نشته. (4)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 …مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:255۔

2 …بُخاری، کتاب: الشروط، صفحه:707704، حديث:27322731۔

3 …الاستيعاب فی معرفة الاصحاب، جلد:1، صفحه:263۔

4 …بَدْ شُگُونی، صفحه:116۔

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُالْمَدِيْنَه دوه کتابونه (۱) د۳۱۲ صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه ١٦ او (٢) د ١٢٠ صفحو کتاب "سُنّتيں اور آداب" هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْـحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریكه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریكه ئې اُووائیو.

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرۡضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم حیران شو چې دا څوك اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَکَ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهۡلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی الله

---

1... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الۡحَلِيۡمُ الۡكَرِيۡمُ ، سُبۡحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵